HUMAN RIGHTS WATCH
&
MEDIA ORGANIZATION

# مطبوعاتي اعلاميه

**افغانستان، کابل**

**نېټه:** ۱۰/۸/۱۴۰۱

**د بشري حقونو او رسنیو د څار اداره د کابل نیوز تلویزیون د خپرونو په بندېدو خپله اندېښنمنه ده.**

کابل نیوز ټلویزیون چې په افغانستان کې یو له ډېرو لیدل شویو رسنیو څخه دی، له یوې لسیزې فعالیت وروسته یې د اقتصادي ستونزو په ګډون د بېلابېلو لاملونو له امله خپلې خپرونې بندې کړې.

د کابل نیوز تلویزیون د خپرونو بندیدل به معلوماتو ته د خلکو لاس رسی محدود کړي او د دغې رسنۍ د کار کوونکو بیکاره کېدل هم د اندېښنې وړ دي.

د بشري حقونو او رسنیو د څار ادارې موندنې ښيي چې په افغانستان کې له سیاسي بدلون وروسته د ۵۵۰ دولتي رسنیو په ګډون ۲۲۵ رسنیو خپل نشرات بند کړي دي.

په افغانستان کې د ۲۲۵ رسنیو په تړل کېدو سره نږدې ۸۰۰۰ خبریالانو او د رسنیو کارکوونکو خپلې دندې له لاسه ورکړي، چې تر ۸۰ سلنه ښځینه خبریالانې دي او پاتې نور يې نارینه خبریالان او د رسنیو کارکوونکي دي.

مونږ په افغانستان کې د خبریالانو د حقونو، د بیان له ازادۍ او ټولو بشري حقونو څخه د دفاع د یوې ادارې په توګه له نړیوالې ټولنې په ځانګړې توګه د خبریالانو د حقونو او د بیان له ازادۍ څخه د دفاع له بنسټونو څخه غواړو چې د خبریالانو او د رسنیو له کارکوونکو څخه ملاتړ وکړي. تر څو په افغانستان کې د رسنیو د خپرونو د ځنډیدو شاهدان ونه اوسو او افغان خبریالان نور بیکاره نه شي.

موږ همدا شان د خبریالانو د نړیوالو ملاتړو ادارو څخه غواړو تر څو له افغان رسنیو او خبریالانو سره مرسته وکړي او پرې نږدي چې د بیان آزادی او خبریالان له ستونزو سره مخ شي.

د بشري حقونو او رسنیو د څار ادارې د رسنیو او پروګرام مشر

د اړیکو شمېرې: ۰۷۹۹۲۴۲۸۷۳ - ۰۷۷۵۳۳۰۴۴۴

برېښنالیک: media@whmo.org

# اعلامیه مطبوعاتی

**افغانستان – کابل**

**تاریخ: ۱۰/۰۸/۱۴۰۱**

**مؤسسۀ دیده بان حقوق بشر و رسانه ها از بسته شدن تلویزیون کابل نیوز ابراز نگرانی می کند.**

تلویزیون کابل نیوز که یکی از پربیننده ترین رسانه های افغانستان است پس از یک دهه فعالیت به دلایل مختلف از جمله مشکلات اقتصادی نشرات خویش را متوقف کرد.

توقف نشرات تلویزیون کابل نیوز دسترسی مردم به اطلاعات را محدود می کند و بیکاری کارمندان این رسانه نیز نگران کننده است.

یافته های مؤسسۀ دیده بان حقوق بشر و رسانه نا نشان می دهد که پس از تغییر سیاسی در افغانستان، از جمله ۵۵۰ رسانه ۲۲۵ رسانه فعالیت خود را متوقف کرده اند.

با بسته شدن ۲۲۵ رسانه در افغانستان، نزدیک به ۸۰۰۰ خبرنگار و کارمند رسانه ای شغل خود را از دست داده اند که ۸۰ درصد آنها را خبرنگاران زن و بقیه را مردان خبرنگار و کارمند رسانه تشکیل می دهند.

ما به عنوان ادارۀ که از حقوق خبرنگاران، آزادی بیان و حقوق بشر در افغانستان دفاع می کنیم، از جامعه جهانی، به ویژه سازمان هایی که از حقوق روزنامه نگاران و آزادی بیان دفاع می کنند، می خواهیم که از آزادی بیان و از کارمندان رسانها حمایت کنند. . تا شاهد بسته شدن رسانه ها در افغانستان نباشیم و خبرنگاران افغان نیز بیکار نه شوند.

همچنین از نهادهای حمایتی بین المللی از خبرنگاران درخواست می کنیم که به رسانه ها و خبرنگاران افغانستان کمک کنند و مانع از بین بردن آزادی بیان شوند.

رابط: رسانه های مؤسسۀ دیده بان حقوق بشر و رسانه ها

شماره های تماس: ۰۷۹۹۲۴۲۸۷۳ - ۰۷۷۵۳۳۰۴۴۴

ایمل: media@whmo.org